# د ټابلیټ (کا) پېژندنه او منفي اغېزې

پوهنیار پرویز نیازی

نوماند پوهنیار محمد حسن هڅاند

**لنډیز**

ټابلیټ K یو ډول نشه یي توکي دي، د امفتامینو له کورنۍ سره تړاو لري، کیمیاوي نوم یې Methylene deoxy methamphetamine، علمي نوم یې (MDMA) او فرمول یې (C10H13NO2) دي، او CAS نمبر یې 42522-10-9دی. ټابلیټ K د کپسول په ډول تولیدېږي، ډېر هغه درمل چې په بازار کي په عین نوم پلورل کېږي ناپېژانده ترکیبات دي، چي په غیر قانوني ډول پلورل کېږي، د یادو درملو د خالصوالي او ترکیب اغیزې هم متفاوتي دي، د یادو درملو عام نومونه عبارت دي له E, Doves, XTC, X, Rolls, Adams. ټابلیټ K خالص سپین کرستالي پوډر دي، چي د کپسولو، ژاولو او ستنو (پیچکارۍ) په ډول پیدا او ګټه ورڅخه اخیستل کېږي، د یادو درملو تولیدونکي غربي اروپا او جنوبي آسیاء ده، هغه هېوادونه چي د ملګرو ملتونو غړیتوب لري، دا درمل هلته منع دي ځکه اشخاص په رواني ناروغیو مبتلا کوي، د یادو درملو کاروونکي لومړی طبقه هغه خلک دي، چي د 18-25 کلنو پوري عمر لري، او په دوهمه کتګوري کي هغه هلکان او انجوني شاملي دي چي عمر یې د 12-17 کلونو پوري وي.

**کلیدي کلیمې:** ځوانان، ټابلیټ K، منفي اغیزې

**سریزه**

الله (ج) خپلو بنده ګانو ته خوشحاله او ښه ژوند ورکړی او تر څنګ یې له مختلفو شیانو څخه انسانان په کلکه منع کړي دي، څو هغه کړني ترسره نه کړي کوم، چي د انسان صحت او ژوند ته خطر پېښوی، پورته مواردو ته په کتو الله (ج) په قرآن کریم کي د نشه راوړونکو درملو څخه د نه کارولو ښوونه کړې ده، ځکه د انسانانو صحت ته خطرناک او مضر دي، او حضرت محمد (ص) هم خپل اُمت له نشه راوړونکو توکو څخه جداً منع کړي او هغه یې حرام ګڼلي دي.

د نشه راوړونکو توکو له جملې څخه یو ډول یې هم د ټابلیټ کا په نوم یادېږي، چي په طبعي ډول شتون نه لري اما! په مصنوعي ډول په لابراتوارونو کي د کیمیاوي عناصرو له ترکیب څخه لاسته راځي، دا داسي نشه راوړونکي کیمیاوي توکي دي، چي د انسان ژوند د تل له پاره ورڅخه اخلي، دا چي په نړۍ کي ډېر خلک په دغه درملو روږد دي او د دوی ژوند یې له تاریکیو ډک کړي دي، زموږ په هېواد افغانستان کي هم دا ډول درمل د لومړي ځل له پاره افغان امنیتي ځواکونو د هملند په ولایت کي کشف کړل او په افغانستان کي په ټابلیټ کا د روږدو کسانو شمېر ورځ تر بلي د زیاتېدو په حال کي دئ، حال دا چي زموږ هېواد یو فقیر او وروسته پاتي هېواد دئ، په دغه کیمیاوي توکو د روږدي کېدو مهم علت فقر دئ، زموږ په هېواد کي د ټابلیټ کا تکثیر ته په پراخه پیمانه ضمینه برابره ده، ځکه موږ هڅه وکړل، څو په د غه برخه کي خپلي ټولني ته مصدر د خدمت و ګرځو خلک د دغه نابودوونکو درملو له زیان څخه خبر کړو، له یوه اړخه به مو خپلي ټولني ته خدمت کړی وي له بله اړخه به مو د

دغه کیمیاوي توکو له بدو او مضرو اغېزو څخه خپل ځان او ټولنه ژغورلې وي، ټابلېټ کا په نړۍ کې د ډېرو هېوادونو له پاره سرخوږی ګرځېدلی زموږ ګاونډیان په پراخه کچه د دغه ستونزي سره مخ دي.

## مواد او مېتود

دغه څېړنه یوه کتابتوني څېړنه ده، نو ځکه د ټاکل سوو موخو د پوره کولو له پاره د مخکنیو څېړونکو موندني او پایلي راغونډې او خلاصه سوي دي. بناءً یادي موندني او پایلي په غیرمستقیمه توګه په دې مقاله کې ځای پر ځای سوي او له مربوطه مأخذ سره مل دي.

## موخي

د دې موضوع له پاره ځانګړي موخي ټاکل سوي، چي په تر لاسه کولو سره به ئې وتوانېږو پر موضوع باندې له ضرورت سره سم رڼا واچوو او د مسلک له نظره ستونزي ته د حل لار ومومو، موخي په لاندې توګه خلاصه سوي دي:

1. ټابلېټ کا او ډولونه یې پېژندل
2. د انسان پر حجراتو د ټابلېټ کا تاثیرات او د روږدي کېدو په عواملو ئې پوهېدل

7777777**د ټابلېټK پېژندنه:** ټابلېټ K د اول ځل له پاره د 1912-1914ز. کلونو په مینځ کې د میرک د کمپنۍ په واسطه جوړ او استعمال سو، تر څو اشتها راکمه کړي، د دې په خاطر چي د نوموړي درملو د مصرف ترځنګ ضررونه هم درلودل، نو د نوموړي درملو څخه استفاده ونه سو او پر خپل حال باقي پاتي سو، وروسته تر 1950ز. کال پوري د نوموړي درملو په باره کې معلومات موجود نه وه خو په 1970ز. کلونو کې ډاکټرانو د نوموړي درملو څخه د رواني درملني له پاره استفاده وکړه ترڅو رواني دفاع پرې ماته کړي او د ناروغانو د احساساتو په بیانولو کې تري استفاده وسی. (Passie, T.et al 2016)

په 1980 میلادي کال کې د نوموړي درملو غیر قانوني تولید مروج سو، په 1985ز. کال کې د نوموړي درملو تولید غیر قانوني اعلان کړل سو، په 1989ز. کال کې په میاشتني ډول د نوموړي درملو څخه30000 دانې کپسولونه تولیدېدل او د نوموړي درملو استعمال د دې په خاطر چي رواني سیستم یې فعاله کاوه کرار کرار مروج آن تر دې چي د شپې په محفلونو، نایټ کلپونو او رقص خانو کې ځوانان په ډېره پیمانه د نوموړي درملو څخه استفاده کول، په نویو ځوانانو کې د اکسپارټي او راک کنسرت په نوم هم شهرت لري، او د اوږدې مودې له پاره میوزیک ته ګډا او رقص کوي. (Oehen, et al 2013)

د MDMA اندازه د 100-150 ملي ګرامه پوري ترتیب او بازارته واردیږي، وروسته کرار کرار د نوموړي درملو څخه په مکاتبو، پوهنتونونو، او حتی په کورونو کې استفاده کېدل، په آمریکا کې په 2002 میلادي کال کې د لسو میلیونو څخه زیاتو خلکو د 12 کلونو په شاخوا کې د نوموړي درملو څخه یو ځل استفاده کړي وه، (McElrath, K., et al 2002) ، د Drug Abuse Warning Network Dawn راپور پر آساس په 2002 کال کې تقریبا 75 سلنه هغه وګړی چي دMDMA د استعمال په خاطر صحي مراکزو ته یې مراجعه کړي وه عمرونه د 25 کلونو په شاوخوا کې ښودل سوی وه، په 2003 کال کې په ټوله نړۍ کې 34 میلیونه خلکو د امفتامینو څخه استفاده کړي وه چي 8 میلیونه خلکو د ټابلېټ K څخه په نوموړي فیصدي کې مستفید سوي وه. [Kozera, K., et al 2020] [Shulgin, A. T. 1990]

**ټابلېټ K ډولونه:** ټابلېت K د ګولیو،کپسولو، پوډرو او د پوستکي د پلاستر په ډول موجود دی، نوموړي ګولۍ مختلف شکلونه او د فراری، ښادي، ګشنیز، صلیب، ټویټا، انسان، مارسیډیس، موټرولا، ډالر او نورو نومونو سره د ځوانانو په منځ کې مشهوري دي، د نوموړي ګولیو رنګونه نخودي، ارغواني، شین، بنفشي او نورو رنګونو سره پیدا کیږي، نوموړي ماده نظر د هغه ډول او خالصوالي ته په مختلفو قیمتونو سره پیدا کیږی، د MDMA اندازه په هره ګولۍ کې متفاوته ده، د 9ـ117 ملي ګرامو پوري وزن لري او ډیر یې ناخالص دي Kفین آفرین، تحریک کوونکي PMA فعال کوونکي، MDA, DXM د عصبي سیستم وژونکي ترکیب Speed pop د محرکو موادو له جملې څخه دي چي د ناخالصو موادو په ډول د ټابلېټ K سره یوځای کیږي [Almeida, N. et al 2018].

**ټابلېټ کا اعلایم او تاثیرات:** ټابلېټ K له محرکو یا تحریک کوونکو موادو له جملې څخه دي چي د شخص د عصبي سیستم د تحریک سبب او د شخص فعالیتونو ته سرعت وربخښي، د انرژي د لوړولو او ډیرولو خاصیت او د ویني فشار او د زړه ضربان په یو ډول لوړیږي، شخص د واقعي

دنیا څخه خارجوي او داسي شیان ویني او آوری چي په واقعیت کي شتون نلري، د درملو ټابلیټ کا د استعمال څخه وروسته علائیم: د نبض لوړوالی، د ویني د فشار لوړېدل، د زړه لوړ ضربان او دوامداره خولی کول چي، د زړه د درېدو سبب ګرځي، د خولې وچېدل د سترګو د کسي غټېدل، د عضلاتو شخوالی، د لاسونو بندوالی، او د بدن لندیدل او ګرمېدل یې مهم علائیم دي. [Brand, H. et al 2008]

د نوموړو درملو د استعمال څخه وروسته 20-90 دقیقو پوري، د انسان پر وجود لاندې اعلایم ظاهرېږي: د اخلاقو بدلېدل، بې احتیاط، د مختلفو مهارتونو د کموالي، د ډېرو فعالیتونو بي درېغه او بې فکره سرته رسول، بدګماني، خستګي، دخوب ګډوډېدل، د شپې په خوب کي وېرېدل او د ناڅاپي غمجن کېدو سبب ګرځي. [Cheng, W. et al 2003]

دا چي ټابلیټ K جنون راوړونکي ماده یا د انسان په رواني حالاتو اغېز لري او یا یې نه لري، په دی اړوند اختلاف د نظر موجود دی، ځني عالمان وایې: دا درمل د انسان په رواني حالاتو اغېزه لري خو ځني بیا وایې: د انسان په رواني حالاتو هغه وخت اغېزه نه لري چي خالصه وي. [Commins, D et al 1987]

**ټابلیټ K د استعمال څخه وروسته څه پیښېږي؟:** ټابلیټ K د انسان د ویني له لاري په ډېره تیزۍ سره د انسان مغزو ته ځان رسوي، او خپل تاثیرات پرېږدي، پورته مواردو ته په کتو د نوموړي توکو استعمال د خولې او پزي او یا هم د پیچکارۍ په واسطه د تزریق کول ډېر خطر لري، چي د شدید خوب، د انرژۍ د تولید، په غېږ کي د نیولو او ښکلولو او د نورو خلکو سره د اړیکو علاقه زیاتوي، په ضمن کی د هوښیارۍ او موسیقي پر مفهوم د پوهیدلو حس زیاتوي، د دې په خاطر چي د مصرف کوونکي په بدن کي زیاته انرژي تولید سوي وي، نو مصرف کوونکي شخص د اوږدې مودې له پاره رقص یا ګډا کوي، نوري نښې یې عبارت دي له: اشتها کموالی او د سترګو د کسي زیات غټېدل، همدا علت دی چي په ډېری مهمانیو کي سربېره پردې چي ډېره کمه روښنایي موجوده وي دوی توري عینکي استفاده کوي، د ځینو خوله یا غاښونه په ناڅاپي ډول سره قلف سي، چي نوموړي قلف کېدل تر ډېر وخت پوري دوام کوي، او مصرف کوونکي مجبور دی چي د خولې د قلفوالي څخه د مخنیوي په خاطر ژاولي استعمال کړي. [Couchman, L.et al 2019]

**د ټابلیټ K لنډ مهاله اغېزي:** د ټابلیټ K لنډ مهاله اغېزي په استفاده کوونکي شخص باندي د 20 - 30 دقیقو پوري راڅرګندیږي، که چیري په تشه معده سره وخوړل سي اثار او علائیم یې ژر راڅرګندیږي، ټابلیټ K په استفاده کوونکي شخص کي د زیاتي انرژي د تولید سبب کیږي، د نوموړي درملو کارونکي وایې: د نوموړي درملو له استفادي وروسته دوی ته داسي حس پیدا کیږي چي، له نورو سره نیږدې او اړیکي ولري، له نورو اثارو څخه یې یو هم د غاښونو چیچل دی چي په غیر ارادي ډول سره صورت نیسي، همدارنګه د شدیدي تبي، لړزې، د زړه د ضربان زیاتېدل، د ویني د فشار لوړېدل یې نوري نښي دي، نوموړي محرک کوونکي مواد کولای سي چي شخص دې ته وهڅوي چي د نه باور په اندازه وګډیږي همداعلت دی چي شخص په شدیده تبه مبتلا کیږي، د خپل بدن اوبه له لاسه ورکوي، چي په خولو باندي بدلیږي، دا حالت کولای سي چي د شخص عضلات ورڅخه واخلي، لومړی یې عضلات شخیږي او وروسته له کاره لویږي، دا هغه حالت دی چي مرګ هم کي واقع کیدای سي. [Parrott, A. C. 2004] [Palhol, F., et al 2002]

**لنډ مهاله اغېزي:** د عضلاتو شخوالی، سستوالی اوضعیفي، د غاښونو چیچل، غیر ارادي حرکات، استفراق یا خواګرزی، د لیدلو کموالی، د سترګو تیز حرکت، د یخ او لړزې احساسول، خوله کول، د خولې وچېدل، بې قراري، د سرګنکس کېدل او د سر درد، بخیلي کول، د زړه د ضربان زیاتوالی، د ویني د لوړ فشار او ناڅاپه مرګ. [Vollenweider, et al1998] [Gijsman, et al 1999]

**د ټابلیټ K اوږد مهاله اغېزي:** د ټابلیټ K د اوږد مهاله اغېزو په باره کي تحقیقات جریان لري، د ایران د اسلامي جمهوریت د ملي انستیتیوت د تحقیقاتو په پایله کي چي پر هغه کسانو یې ترسره کړې چي ټابلیټ K یې استفاده کول او بیا یې پرې ایښي وه د نوموړي اشخاصو ماغزه په هغه ځایو کي چي حافظه، خوب، او ناڅاپه پیښو اړوند وي ضرر تر سترګو سوي چي د مغز مختلفي برخي تخریبوي او انسانانو ته ډول ډول ناروغۍ لکه: افسرده ګي د شدید خوب، د حافظي له لاسه ورکول او دې ته ورته ناروغۍ پیداکوي، د نوموړي مادي اثرات دومره خطري دي چي حتا د پاراناویا (میرګي) ته ورته حملي چي د جنون (لیونتوب) د حملو په نوم هم یادیږي رامنځته کړی. [Colado et al, 2004]

ټابلیټ K د نورو روږدي کوونکو نشه یې توکو په ډول د بدن دفاعي قوه له مینځه وړي او انسان د ناروغیو په مقابل کي کمزوری کوي، سربېره پردې د ټابلیټ K د استعمال په پایله کي انسان د حافظې اړوند برخي د اوږدی مودې له پاره د لاسه ورکوي، څېړنو ښودلي ځینی حجری د ټابلیټ K د پرېښودلو وروسته بیرته ترمیم او رشد یې کړي خو دا رشد او جوړېدنه د پخوا په شان نه وی، ځینی څېړني چي پر حیواناتو د پیچکاري کولو

په واسطه ترسره سوي دا ښيي چي ټابليټ K د حيواناتو پر مغز خپل اغېز د څلور ساعتونو څخه وروسته پيل کوي او ښيي يې وروسته د پنځو يا شپږو کلونو په موده کی راڅرګندېږي. [O'shea, et al, 2006] [Colado et al, 2004]

**د ټابليټ K رواني نښې:** د ټابليټ K رواني نښې وروسته له څو ساعتونو يا ورځو راڅرګندېږی او د زيات وخت له پاره يي نښی پاته کيدای سي لکه: لږ ګرځېدل، افسرده ګي، د خوب مشکلات، ضعيف تمرکز، بې قراري، کنټرول د لاسه ورکول، شديد اضطراب، په حرکاتو کي تحريف، د ليدلو، اورېدلو او لمس کولو د حسونو کمېدل. [Serez, S.et al 2019]

**پر جنسي اړيکو د ټابليټ K تاثيرات:** څرنګه چي ټابليټ K صميميت او د نورو سره د اړيکو نيولو غوښتنه قوي کوي او استفاده کوونکي شخص شديد تمايل دې ته ښيې ترڅو د نورو سره جنسي اړيکي ټينګي کړي په پايله کي کيدای سي د جنسي تجربې ښکار سي په حقيقت کي د ټابليټ K مصرف کوونکی شخص په جنسي ناتواني مبتلا کوي. [Schifano, F. (2004)]

**د حمل پر وخت د ټابليټ K مصرف:** د حمل پر وخت د ټابليټ K استعمال پر جنين او د هغه پر مغز اغېز کوي، دا اغېزي د جنين د تولد څخه 5-6 کاله وروسته په ماشوم کي راڅرګندېږي، که چيري ټابليټ K ته دويامين چي کيمياوي مواد دي ورګډ کړل سي د ماشوم پر مغزي حجراتو اغېز کوي او د ياد ماشوم د پاملرني، خوب او نورو برخو کي ستونزی رامنځته کيږی. [Garcia-Algar,et al 2005] [Ikeda, R. et al 2011]

**د ټابليټ K اغېز پر مغز:** د ټابليټ K کم مصرف هم د لنډي مودې له پاره د انسان پر مغز جدي اغېز لري او د اوږدې مودې خطرونه ايجادوي، ټابليټ K د اول ځل له پاره د انسان پر مغزي حجراتو (نيورون) بريد کوي دا د مغز هغه برخه ده چي د اعصابو اړيکي د سروتونين په واسطه د نورو برخو سره ټينګوي، سروتونين هغه ماده ده چي د انسانانو روحي، جنسي، خوب، حافظه، حساسيت، درد او اشتها په مقابل کي دا برخي کنټرولوي، د ټابليټ K زيات استعمال د سروتين د حجراتو د منځه وړلو لامل سي. د نوموړو حجرو د منځه تلل د انسان د بدن تنظيم ته صدمه رسوی او هم حافظه خرابوي، چی انسان د ډير درد او افسردګی احساس کوی. [Gahlinger, P. M. 2004]

**ټابليټ K په وجود کي د څومره وخت له پاره پاتېږي؟:** ټابليټ K په ډېره تيزي سره د synthesis وړ دي ځکه په ډېر سرعت سره د انسان مغز ته رسيږي او پر مغز خپل اثرات پيلوي، د نوموړي موادو اثرات له 20-90 دقيقو پوري د استعمالونکي شخص پر وجود باندی راڅرګندېږي، او د 2-3 ساعتونو پوري د مصرف کوونکي شخص په وجود کي پاتېږي، وروسته انسان په آفت مبتلا کوي، څوک چي نوموړي مواد استعمالوي، د نيکو اخلاقو ترڅنګ پر نفس اعتماد پيداکوي، اما د نوموړي موادو د څو ځلي مصرف وروسته خپل د خوشحالۍ احساس او پر ځان باور، تکليفونو، ستونزو او دردونو ته پرېږدي او حتی د نوموړي توکو د يوه کپسول مصرف هم د ناڅاپه قلبي حملې سبب ګرځي ممکن نوموړي اثرات د 3-24 ساعتونو پوري پاتي سي، وروسته له هغې شخص د نوموړي توکو دوهم ځلي استعمال ته ضرورت پيدا کوي. [Soar, K., et al2001]

**پايله**

ټابليټ کا د انسان ژوند تباه کوي او انسان پرې معتاد کيږي، د دغه کيمياوي درملو اکثره کارونکي ځوان قشر تشکيلوي روان پيژندونکي عقيده لري، چي په ټول نړۍ کي هغه ځوانان چي تحقير سوی محروم سوی او يا هم د تبعيض يا د دوه ګوني چلند سره مخ دي په دغه نشه يې درملو مبتلا کيږي او هغه ځوانان چي د نه روښانه راتلونکي سره مخ وي هم به دغه درملو د روږدي کيدو امکان لري، او ددې ترڅنګ هغه ځوانان چي په سختګيره کورنيو کي ژوند کوي او د ژوند محدوديتونه يې ځوروي په دا ډول درملو روږدي کيږي.

د ځوانانو او نويو ځوانانو روږدي کېدل په دغه ناروغۍ ډير علتونه لري اما تر ټولو قوي دليل يې دا دی چي ځوانان او نوي ځوانان د دغه درملو په وړاندي غلط تصور لري او داسي عقيده لری چي ټابليټ کا خوښي ورکوي، ډير نوي ځوانان ددې په خاطر چي دغه درمل دوی ته خوښي ورکوي د دغه درملو کاروني ته مخه کوي، او د دي په خاطر چي د ژوند د ستونزو او مشکلاتو څخه يې تېښته کړي وي دغه درملو ته پناه ور وړي، د دي ترڅنګ تر ټولو قوي دليل د همزولو فشار دی دا چي شخص د خپلو همزولو سره د ژوند ډيره برخه تيروی نو که چيري يې همزولي د دغه درملو په کارونه مبتلا سوی وي شخص هم پرې مبتلا کيدای سي، په ټول نړۍ کي خلک د دغه درملو دمصرف څخه سر ټکوي دغه درمل کولای سي انسان روږدي کړي او د تل له پاره يې خوږ ژوند ور خراب کړي او فاميل يې د تل له پاره په مشکلاتو کي ورسره لاس او ګرېوان سي هېره دي نه وي چي د دغه درملو تاوانونه له حده ډير دي چي بايد ټولنه ترې وژغورل سي.

**وړانديزونه**

1. د ټابلیټ کا او د هغه د اضرارو  په اړه باید عامه پوهاوی رامینځته کړل سي، څو خلک د دغه بد مرغه کیمیاوي توکو د استعمال څخه لاس په سر سي.
2. په پوهنتونونو، ښوونځیو، صحت عامه او نورو علمي ځایونو کي د دغه کیمیاوي درملو اړوند سمینارونه ورکول سي.
3. دولت د دغه درملو اصلي سرچیني او وارد کوونکي په داخل د هیواد کي وځپي او قاچاقبرانو ته یې سخته سزا  ورکړي، څو نوموړي کیمیاوي توکي وارد نه کړي.

## References


.**Almeida, N. S.,** tablets. Journal of the Brazilian Chemical Society, 29, 1944-1950.

**Brand, H. S., Dun, S. N., & Amerongen, A. N. (2008).** Ecstasy (MDMA) and oral health. British dental journal, 204(2), 77-81.

**Cheng, W. C., Poon, N. L., & Chan, M. F. (2003).** Chemical profiling of 3, 4-methylenedioxymethamphetamine (MDMA) tablets seized in Hong Kong. Journal of forensic sciences, 48(6), 1249-1259.

**Colado, M. I., O'shea, E., & Green, A. R. (2004).** Acute and long-term effects of MDMA on cerebral dopamine biochemistry and function. Psychopharmacology, 173(3), 249-263.

**Cole, J. C., & Sumnall, H. R. (2003).** The pre-clinical behavioural pharmacology of 3, 4-methylenedioxymethamphetamine (MDMA). Neuroscience & Biobehavioral Reviews, 27(3), 199-217.

**Commins, D. L., Vosmer, G., Virus, R. M., Woolverton, W. L., Schuster, C. R., & Seiden, L. S. (1987).** Biochemical and histological evidence that methylenedioxymethylamphetamine (MDMA) is toxic to neurons in the rat brain. Journal of Pharmacology and Experimental Therapeutics, 241(1), 338-345.

**Couchman, L., Frinculescu, A., Sobreira, C., Shine, T., Ramsey, J., Hecht, M. & Johnston, A. (2019).** Variability in content and dissolution profiles of MDMA tablets collected in the UK between 2001 and 2018–A potential risk to users? Drug Testing and Analysis, 11(8), 1172-1182.

**Gahlinger, P. M. (2004)**. Club drugs: MDMA, gamma-hydroxybutyrate (GHB), Rohypnol, and ketamine. American family physician, 69(11), 2619-2626.

**Garcia-Algar, O., López, N., Bonet, M., Pellegrini, M., Marchei, E., & Pichini, S. (2005)**. 3, 4-methylenedioxymethamphetamine (MDMA) intoxication in an infant chronically exposed to cocaine. Therapeutic Drug Monitoring, 27(4), 409-411.

**Gijsman, H. J., Verkes, R. J., Gerven, J., & Cohen, A. F. (1999).** MDMA study. Neuropsychopharmacology, 21(4), 597-597.

**Kozera, K., Cichoń, L., Wilczyński, K., & Janas-Kozik, M. (2020).** MDMA–hopes and fears associated with therapeutic use in mental disorders. Pharmacotherapy in Psychiatry and Neurology/Farmakoterapia w Psychiatrii i Neurologii, 36(3), 187-204.

**Ikeda, R., Igari, Y., Fuchigami, Y., Wada, M., Kuroda, N., & Nakashima, K. (2011).** Pharmacodynamic interactions between MDMA and concomitants in MDMA tablets on extracellular dopamine and serotonin in the rat brain. European journal of pharmacology, 660(2-3), 318-325.

**McElrath, K., & McEvoy, K. (2002).** Negative experiences on ecstasy: The role of drug, set, and setting. Journal of Psychoactive Drugs, 34(2), 199-208.

**O'shea, E., Orio,** L., **Escobedo, I., Sanchez, V., Camarero, J., Green, A. R., & Colado, M. I. (2006).** MDMA-induced neurotoxicity: long-term effects on 5-HT biosynthesis and the influence of ambient temperature. British journal of pharmacology, 148(6), 778-785.

, **R., Widmer, V Oehen, P., Traber., & Schnyder, U. (2013).** A randomized, controlled pilot study of MDMA (±3, 4-Methylenedioxymethamphetamine)-assisted psychotherapy for treatment of resistant, chronic Post-Traumatic Stress Disorder (PTSD). Journal of psychopharmacology, 27(1), 40-52.

**Parrott, A. C. (2004).** Is ecstasy MDMA? A review of the proportion of ecstasy tablets containing MDMA, their dosage levels, and the changing perceptions of purity. Psychopharmacology, 173(3), 234-241.

**Palhol, F., Boyer, S., Naulet, N., & Chabrillat, M. (2002).** Impurity profiling of seized MDMA tablets by capillary gas chromatography. Analytical and Bioanalytical Chemistry, 374(2), 274-281.

**Passie, T., & Benzenhöfer, U. (2016).** The history of MDMA as an underground drug in the United States, 1960–1979. Journal of psychoactive drugs, 48(2), 67-75.

**Schifano, F. (2004).** A bitter pill. Overview of ecstasy (MDMA, MDA) related fatalities. Psychopharmacology, 173(3), 242-248.

**Serez, S., Yard, H., Demir, D., Ya, S. A., & Tanr, A. B. (2019).** False positive toxico-logic screening of amphetamine and ecstasy (MDMA) following bupropion use. Klinik Psikofarmakoloji Bulteni, 29, 222-223.

**Shulgin, A. T. (1990)**. History of MDMA. In Ecstasy: The clinical, pharmacological and neurotoxicological effects of the drug MDMA (pp. 1-20). Springer, Boston, MA.

**Soar, K., Turner, J. J. D., & Parrott, A. C. (2001).** Psychiatric disorders in Ecstasy (MDMA) users: a literature review focusing on personal predisposition and drug history. Human Psychopharmacology: Clinical and Experimental, 16(8), 641-645

**Vollenweider, F. X., Gamma, A., Liechti, M., & Huber, T. (1998).** Psychological and cardiovascular effects and short-term sequelae of MDMA ("ecstasy") in MDMA-naıve healthy volunteers. Neuropsychopharmacology, 19(4), 241-251

**Benedito, L. E., Maldaner, A. O., & Oliveira, A. L. D. (2018).** A validated NMR approach for MDMA quantification in ecstasy

Abstract

Tablet K is a type of drug that belongs to the amphetamine family; its chemical name is Methylene deoxymethamphetamine; its scientific name is MDMA; its formula is C10H13NO2; and its CAS number is 42522-10-9. Tablet K is produced in the form of capsules. Most of the drugs that are sold on the market with the same name are unknown compounds that are sold illegally. The purity and composition of these drugs are also different. From E. Doves, XTC, X, Rolls, and Adams. Tablet K is a pure white crystalline powder that is found and used in the form of capsules, chews, and needles. The producers of these drugs are Western Europe and South Asia, the countries that are members of the United Nations; these drugs are available there. They are prohibited because they make people suffer from mental illnesses. The first category of users of these drugs is people who are between 18 and 25 years old, and the second category includes boys and girls who are between 12 and 17 years old .

ماخذونه